# د لنډي قيصې خوبياني

د لنډي قيصې خوبياني په لاندينې ډول دي :

۱.وحدت زمان

۲.وحدت مکان

۳.وحدت عمل

۴.وحدت تاثر

۵.اسلوب بيان

۶.اختصار يا لنډوالی

۷.فلسفه حيات يا مقصديت

۱.وحدت زمان:د وحدت زمان نه مراد هغه منتقي وخت دی په کوم کښې چي قيصه شرو شي او انجام ته ورسي .د لنډي قيصې په واقعاتو او وخت کښې به سمون وي . که چيري دا سمون نه وي نو تضاد به پيدا کيږي او قيصه به غير فطري شي .

۲.وحدت مکان:د دې نه مراد دا دی چې په کوم چاپيرياِل ښې قيصه پيدا شي په هغه ورته ختمېدل پکار دي . په کردار او ځای ځايګي کښې به

يوفطرى مناسبت وي . يو كردار له يو ځاى وركول وي نه چې كله يو ځاى او كله بل ځاى .

۳.وحدت عمل : وحدت عمل دي ته وايي چېې د يو كردار به په مختلفو كارونو او فعلونو كښې مطابقت ضروري وي .لكه يو كردار په يو وخت كښې بې ايمانه او ايماندار نه شي كېداى . كله امير او كله غريب نه شي كيداى .

۴.وحدت تاثر : د دې نه مراد چې د قيصې ټول الفاظ د كردار هره خبره او د منظر كشۍ هر منظر به په لوستونكي صرف او صرف يو تاثر پرې باسي . ددې د پاره ضروري ده چې د قيصې په شرو او پلاټ كښې به ربط وي . د دلچسپۍ مقصد به يو وي ،افسانه نګار د ژوند يو ارخ او يوه واقه راواخلي او په مخصوص انداز كښې يې پېش كوي چې داسي په لوستونكي يو اثر غورځوي . د قيصې بيان له شرو نه تر آخره داسي په كار دى چې د افسانه نګار نظريه واضح شي او دهغه عقل يې و مني ذهن يې مطمئين شي او جذبات يې متاثر شي .

۵.اسلوب بيان: اسلوب د هر ليكوال جدا جدا وي په دې كښې د افسانه نګار خپل ځان او موضوع په خپل مخصوص انداز څرګندوي . دا دخداى تعالى وركړه ده چاته يې څومره خوښه ده وركړې ده هغه دومره كامياب دى او ښكلې طريقه د خپلې معني او خيال ابلاغ كولى شي .

۶.اختصار یا لنډوالی: لنډوالی دې ته وايي چې هغه ټولي واقعې د بیانولو منظرونه مکالمې او کردارونه په قیصه کښې داخل نه کړای شي کوم چې په افسانه کښې لنډوالی راولي او وحدت تاثر ته نقصان رسوي ځکه د هر قسم غیر ضروري صوتي او معنوي الفاظو نه ځان بچ ساتل په کار دي .

۷.فلسفه حیات یا مقصدیت : په افسانه کښې فلسفه حیات هغه نقطه ته وايي چې افسانه نګار يې په افسانه لیکلو مجبور کړی وي . افسانه نګار دا نه ښکاره کوي چې د هغه څه مقصد دی او څه تاثر پیدا کول غواړي او لوستونکی کوم طرف ته مایل کوي . هغه دا کار د واقعاتو او کردارونو نه اخلي .

مینه او مننه

عبدالصمد جلالزی